هاشم مهمند ۲۰۲۱/۰۲/۰۳

# ناشناس،
# د هندیانو په اصطلاح، ډېر بد تمیزه انسان دی!

نن مي د صادق فطرت ناشناس د مضحکو خبرو یوه ویډیو وکتله چه په هغه کي یې افغان تاریخ او ملي تاریخي شخصیتونو ته سپکاوی کړی دی.

ده خپلي خبرې په یوه درواغ پیل کړي او وایي چه د ثور د اوومي د کودتا په دوهمه ورځ، سهار راډیو افغانستان ته وغوښتل سو او هلته لایق صاحب په زینو کي ورته ولاړ و او ده ته یې خپل شعر(ای د آزادی خاورې تا ته مو سلام دی) ورکړ او خواهش یې وکړ چه هغه ووایي.

ناشناس وایي ما دا شعر ولوست نه د نورمحمد تره کي نوم پکښي و او نه د حفیظ الله امین. شعر مي خوښ سو او ترانه مي وویله. خو مرحوم لایق صاحب په یوه مرکه کي ویلي و، چه د دې ترانې د ویلو لپاره څو هنرمندان کاندید وو، خو ناشناس ډېر ټینګار وکړ، چې دا ترانه ووایي.

په هر حال، ده نه یوازې د کودتایي نوي نظام ترانه چه ښایي د مرحوم داود خان په وینو سور جسد لا خاورو ته نه و سپارل سوی، وویله بلکه وروسته یې څیني روسی ترانې هم د نویو واکمنانو د هغوی د بادارانو د خوشحاله کولو لپاره په راډیو افغانستان کي ثبت کړې، چه د ملي راډیو تلویزیون په آرشیف کي موجودې دي.

دا په وروستیو میاشتو کي د ناشناس دوهمه ویډیو ده چه زه یې وینم. په لومړۍ ویډیو کي یې د پښتنو پر هویت او په خاصه توګه د «پټي خزانې» پر اثر ډېر جاهلانه او غیرمسلکي ګذارونه وکړل. د پټي خزانې په اړه تر لومړیو خبرو وروسته یې د بي بي سي له خبریال داود اعظمي سره په خبرو کي پر خپلو خبرو پښېماني ښوولې وه، خو بیا یې هم په نورو مرکو کي خپلي پخوانۍ غیرمسلکي خبرې تکرار کړې.

په اوسنۍ ویډیو کي یې د افغانستان پر ملي شخصیتونو لکه احمدشاه بابا او غازي امان الله خان تاخت و تاز کړی دی.

دی وایي احمدشاه بابا به ډېرې ویني وبهولې خو فتح سوې سیمې به یې په دې خاطر چه ده ته به د پښتونخواه د غرو سرونه ور په یاد سول ببرته مغولانو ته پرېښودې، ځکه ده دا سیمې نه سوای ساتلای یعني بې کفایته و.

ناشناس بیا د غازي امان الله خان په هکله وایي چه دی به تل له «ثریاجانې» سره یو ځای سفرونه کول او د هېواد په فکر کي نه و. ملکه ثریا د علامه محمود طرزي لور، یوه ډېره محترمه او منوره ښځه اود افغانستان د ښځو د نهضت یوه پیاوړې استازې او لاربنوده وه. دی ته په استهزا آمېزه توګه د ثریاجانې خطاب کول د ناشناس د بې فرهنګی او ګستاخی ښکارندویي کوي.

د افغانانو ملي هویت، ملي شخصیتونو او تاریخ ته د ناشناس دا ډول سپکاوی یو شمېر افغانان چه خاصې انګېزې لري خوشحاله کړي او چکچکې ورته کوي او شاباسونه ورته وایي. خو اصلي پوښتنه دا ده چه ولي اوس؟ بلکه دا چې پر دغسې مسایلو له ده سره ولي مرکې کیږي؟


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

نن هم په افغانستان کې د تېرو څلوېښتو کلونو په شان خونړۍ جګړه روانه ده او هره ورځ مو په لسهاوو ځوانان شهيدان کېږي او ټول ولس مو د غم پر ټغر ناست دی، نورې ناخوالې لکه فقر، فساد، بې عدالتي، ناروغی او نور خو لا پرېږده. په دغسې له خواشينی ډک حالت کې د ناشناس دا ډول غيرمسولانه ځرګندوني او د ولس پر زخمونو د مالګې پاشل بايد څه ډول توجيه سي او د دې کار څخه د ده هدف څه دی؟

ناشناس به ښايي اتياکلن وي. آيا ده پخوا هم د افغانستان د تاريخ او ملي هويت په اړه همدا فکر درلود که يې اوس عقل سر ته راغلی دی؟ آيا ده د سپين ږيرتوب په عمر کې خپل د عقل سلامت له لاسه ورکړی او رواني ناروغ دی او که دا د افغانستان د ضد کړيو د کوم پلان يوه برخه ده او دی د يوې وسيلې په توګه استعمالېږي؟

ناشناس په يوه مرکه کې اعتراف کړی دی، چه ده ته په پاکستان کې د آی اس آی له خوا د مياشتي لس زره کلدارې معاش ټاکل شوی و، چه وروسته اته زره کلدارو ته راکم شو او په دې د ده خوا بده وه.

ټولو افغانانو ته معلومه ده چه د پاکستان سياست په افغانستان کې د افغاني تاريخي هويت له منځه وړل وو او دی.

د هډې د تاريخي آثارو تخريب، په باميان کې د بودا د مجسمو تخريب، د کابل د موزيم د آثارو چوراو تالان، د دارالامان او چهلستون د مانيو ورانول او د ډېرو نورو تاريخي آبداتو له منځه وړل د پاکستان د دغه سياست يوه برخه وه چه د خپلو افغاني ګوډاګيانو په لاس يې وران کړل.

اوس تر پخوا شرايطو تغيير کړی او د افغانستان ملي ځواکونه پياوړي شوي او حکومت او خلک د پاکستان د داسي دسيسو په وړاندې حساس شوي دي. پاکستان هم پوهېږي چه نورد ده ګوډاګيان د پخوا په شان په خلاص لاس هر کار نه سي کولای. خو دا په دې معنی نه ده چه پاکستان له خپلې دښمنۍ لاس اخيستی دی. نو هڅه کوي چه د ناشناس په شان له پېژندل شويو خو ضعيف النفسه کسانو څخه د يو څو ډالرو د ورکولو له لارې خپل دغه شوم اهداف پر مخ بوځي.

والله اعلم

يوه بله مسئله هم چه د يادولو وړ ده د ناشناس د دکتورا مسئله ده. ويل کېږي چه ناشناس د پښتو ادبياتو په برخه کې په پخواني شوروي اتحاد کې دکتورا اخيستې ده. هغه کسان چه اکاډميکي زده کړې يې کړې دي ډېر ښه پوهېږي چه د ماسترۍ تر اخيستو وروسته د دکتورا د اخيستلو دوره لږ تر لږه څلور کاله ده. دلته څو پوښتني مطرح کېږي.

لومړی، ده خپله ماستري څه وخت او له کوم پوهنتون څخه ترلاسه کړې ده؟ ځکه د ده د تحصيل په دوره کې د کابل پوهنتون لا د ماسترۍ د ورکولو پروګرام نه درلود، نو ده بايد ماستري په يوه بهرني هيواد کې ترلاسه کړې وي. دا کوم هيواد و؟

دوهم، ناشناس د کمونستانو د واکمنۍ په کلونو کې په مسکو کې د افغانستان د سفارت په کلتوري څانګه کې درې کاله مامور و. د ماموريت تر څنګ درې کاله تحصيل د ماسترۍ او دکتورا د اخيستلو د پاره که يو شاګرد نابغه هم وي، کفايت نه کوي. د دکتورا څلورکلنه دوره د تيزس يا کتاب تر ليکلو وروسته، چه هغه ته په انګرېزۍ کې ديزرټېشن وايي اومحصل بايد د لويو استادانو په حضور کې د خپل تيزس دفاع وکړي، پای ته رسېږي او محصل ته د ډاکټر اکاډميک لقب ورکول کېږي.

ناشناس خپل تيزس په کومه ژبه ليکلی؟ په روسي که په پښتو؟ ولې چا نه دی ليدلی؟ د ده د کتاب نوم او عنوان څه دی؟ چېرې چاپ شوی او له کومه آدرسه تر لاسه کېدای شي؟ تر کومه چه زه خبر يم هېڅکله هم د ناشناس له خوا کوم کتاب، علمي رساله يا اکاډميک تحقيق نه دی خپور شوی او زه شک لرم چه دی به د دې کار وړتيا هم ولري.

په هر حال موږ په دې هم خبر یو، چه په شوروي اتحاد او د شرقي اروپا په سوسیالستي جمهوریتونو کې کله- کله هغو کسانو ته چه دوی ته نژدې او د دوی په درد خوړل، اعزازي د کتوراګاني ورکول کېدې چه کېدای شي د ده دکتورا لقب هم له همدې سلسلې څخه وي.
له بلې خوا نن د دکتورا درلودل د پخوا شان یوه لویه خبره نه ده، ځکه نن زموږ ډېرو هېوادوالو په ډېر لیاقت خپل علمي استعدادونه ښودلي اولوړ اکادمیک لقبونه یې ګټلي دي. د دغو هېوادوالو بحثونه ، هم علمي وي او هم پر معیارونو برابر وي، دوی د خپل هېواد د ارزښتونو سپکاوی نه کوي، خو دا ثابت شوې ده چې تر لوړ تحصیل هم انساني درک او شعور مهم دی . ایراني علي شریعتي د برتراند رسل یوه مقوله په فارسي ژبه داسې راا‌ړولې ده:
مهم نیست که چه مدرکی دارید مهم این است که چه درکی دارید
په پای کې د دې ټکي زیاتول غواړم چه افغانان به هېڅکله هم چاته اجازه ورنه کړي چه د ولس پر ملی هویت او ملي مقدساتو تېری وکړي یا هغو ته په سپکه سترګه وګوري.



د هاشم مهمند د نورو لیکنو لپاره، پر عکس کلیک وکړی



برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com